# هغه مهال لمونځ کول نه صحيح کېږي چې خواړه د خوراک لپاره چمتو وي او نه هغه مهال چې د وړوکي او يا لوی اودس ماتي له امله يې اودس تنګ وي

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «هغه مهال لمونځ کول نه صحيح کېږي چې خواړه د خوراک لپاره چمتو وي او نه هغه مهال چې د وړوکي او يا لوی اودس ماتي له امله يې اودس تنګ وي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه خوراک په شتون کې له لمانځه څخه منعه کړې چې د عبادت کوونکي اشتها ورته راځي او زړه يې ورسره تړلی وي. همدا رنګه يې هغه مهال له لمانځه څخه منع فرمايلي ده چې اودس ماتی ورټينګ وي - تشې او يا ډکې متيازې ورځي - ځکه چې د دې دواړو ايسارول يې مشغولوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3088

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee